مسیر
ورځپاڼه
نوی لید، نوی مزل
www.maseerdaily.af
چهارشنبه د ۱۳۹۹ د سلواغې اتمه | د ۲۰۲۱ د جنوري ۲۷مه | ۶۷۱یمه ګڼه

# د بین الافغاني مذاکراتو په تړاو بې پروايي؛

## طالب پلاوی د ایران په سفر بوخت دی او افغان پلاوی له روان بهیر شکایت لري



۳

د سولې خبرې ولې په ټپه ولاړې دي؟
۲ مخ

کمبود انرژی برق در افغانستان
۲ مخ

د جګړې شدت او له بایډن د سولې تمه
۳ مخ

## د امریکا خزانې وزارت: القاعده د طالبانو تر پوښښ لاندې پیاوړې شوې؛ خو طالبان دا پروپاګند بولي

د امریکا خزانې وزارت وايي، القاعده شبکه افغانستان کې د طالبانو تر پوښښ لاندې د ودې او پیاوړتیا په حال کې ده. د ترهګرۍ د مالي تامین په اړه د دغه وزارت د ۲۰۲۰ کال یادښتونو کې چې «لانګ وار ژورنال» ورته لاسرسی موندلی، راغلي چې طالبان لا هم له القاعده شبکې سره اړیکې پالي. په دغه رپوټ کې ادعا شوې چې القاعده د خپلو روزونکو او سلاکارانو د شبکې له لارې له طالبانو سره د مشورو، لارښوونو او مالي ملاتړ برخو کې مرسته او همکاري کوي او په دې توګه له طالبانو سره له اړیکو ګټه اخلي. لانګ وار ژورنال لیکلي، طالبان له القاعده سره د اړیکو په اړه دروغ وايي او ان له دې هم انکار کوي چې دغه شبکه دې اوس په افغانستان کې حضور ولري. سرچینه کاږي: «که طالبان القاعدې او نورو ترهګرو ډلو سره اړیکې پرې نه کړي، د سولې تړون نه شي کېدای.»

د امریکا د خزانې وزارت دا ادعا هم کړې چې د حقاني شبکې مشران «د القاعده په همکارۍ او مالي ملاتړ د وسلهوالو جګړه مارو د یوې نوې ګډې ډلګۍ په جوړولو غږېدلي دي.»

دا مالومات داسې مهال خپاره شوي چې د امریکا نوې ادارې له طالبانو سره د ډونالډ ټرمپ د ادارې هوکړې ته د بیا کتنې خبره کړې ده. طالبانو په دې هوکړې کې له افغانستانه د ټولو بهرنیو ځواکونو د وتلو بدل کې ژمنه کړې چې پر بهرنیو ځواکونو به بریدونه نه کوي، القاعده او نورو ترهګرو سازمانونو سره به اړیکې نه ساتي، له افغانستانه به نړۍ ته ګواښ نه پېښېږي او بین الافغاني خبرو کې به برخه اخلي.

ملګري ملتونه:

## په افغانستان کې روان کړکېچن وضعیت اندېښمن کړي یو




۵ مخ

کتاب

۴ مخ

## د سوفي نړۍ

د دغه ناول په اړه استاد اجمل ښکلی وايي: «(د سوفي نړۍ) د ناروېژي لیکوال جوستیین ګارډر ناول دی. د ناول کیسه پر یوې پنځلس کلنې نجلۍ چورلي. د نجلۍ نوم سوفي دی او په یوناني کې سوفي عقل او پوهې ته وايي، چې لیکوال لاسي دا نوم پرې اېښی.




## ننګرهار کې ۱۹۲ شنې خونې ګټې اخیستنې ته وسپارل شوې



د کرنې وزارت ویاند اکبر رستمي پرون ازادي راډیو ته وویل، چې دغه شنې خونې د څه باندې ۱۰۰ میلیونو افغانیو په لګښت جوړې شوې دي.

نوموړي زیاته کړه، د دغو شنو خونو د جوړولو ۸۵ سلنه لګښت د کرنې وزارت او یوازې ۱۵ سلنه لګښت یې د برخمن شویو کسانو لخوا ورکړل شوی دی. د کرنې وزارت د معلوماتو له مخې، په ۱۳۹۹ یم مالي کال کې د کرنې وزارت د ننګرهار د کرنې، مالدارۍ، اوبولګولو او ښوالۍ په بېلابېلو برخو کې څه باندې ۷۵۸ میلیونه افغانۍ لګولې دي.

دغه وزارت دغه شان په ننګرهار کې د مېوه لرونکو ونو د نیالګیو کېنولو کمپاین هم پیل کړی دی. یاد وزارت وايي، په ۱۴۰۰ یم مالي کال کې د ننګرهار په بېلابېلو ولسوالیو کې د سټروسو، املوکو، شفتالو او نورو مېوو دوه زره جریبه بڼونه جوړوي، چې ټولټال یې د جوړولو ټولیز لګښت ۷۷ میلیونه افغانۍ ښودل شوی دی.

## رئیس جمهور؛ با کرزی، سیاف و عبدالله با مسایل صلح گفتگو کرده است



رئیس جمهور غنی با حامد کرزی رئیس جمهور پیشین، داکتر عبدالله عبدالله رئیس شورای عالی مصالحه ملی و عبدرب الرسول سیاف رئیس حزب دعوت اسلامی، در پیوند به مسایل صلح گفتگو کرده است.

درخبرنامه دفتر سخنگوی رئیس جمهور آمده است که این نشست قبل از ظهر دیروز در ارگ تدویر شده است.

به نقل از منبع، در این دیدار ضمن بحث در باره وضعیت جاری کشور، روی آتش بس، کاهش خشونت، اجماع سیاسی و تامین صلح مطلوب که باعث ثبات افغانستان و توقف ریختن خون شود، تاکید شده است.

در خبرنامه آمده است که محمد اشرف غنی رئیس جمهور کشور، ضمن تاکید بر اجماع سیاسی، آتش بس و کاهش خشونت در کشور گفته است که در این شرایط حساس کشور، مشورت ها با شخصیت های سیاسی و اقشار مختلف مردم در رابطه به پروسهٔ صلح ادامه خواهد یافت.

این در حالی است که حامد کرزی رئیس جمهور پیشین کشور شام روز دوشنبه با داکتر عبدالله عبدالله رئیس شورای عالی مصالحه ملی نیز دیدار کرده است.

در خبرنامه دفتر رئیس جمهور پیشین آمده است که در این دیدار دو طرف پیرامون انکشافات اخیر در پروسه صلح و قدمهای بعدی برای کامیابی این پروسه بحث نموده اند. این در حالی است که هیات های گفتگوکننده صلح میان افغانان در دوحه پس از هشتاد روز گفتگوها روی کارشیوه گفتگوها توافق نموده و از حدود دو هفته به این سو دور دوم گفتگوها به کندی ادامه دارد و هنوز به کدام نتیجه ای دست نیافته است.

Aksos
اکسوس کتابپلورنځی
Aksos Book Store
Add a Book to Your Life
دهبوریو پارک جنوبي دروازې ته مخامخ
0798-98-9696, 0202504652
aksosbookstore@gmail.com
www.aksosbookstore.af
Aksos Book Store
Aksos Book Store

## سرلیکنه

### د سولې خبرې ولې په ټپه ولاړې دي؟

شاوخوا شل ورځې وړاندې په دوحه کې د سولې د بین الافغاني خبرو د بیا پیل رسمي خبر ورکړل شو، خو دا خبرې له همغه پیله سړې وې. دواړو اړخونو یوازې دوه- درې ځلې سره لیدلي دي، خو هېڅ جدي خبرې یې نه دي کړي او نه هم په دې خبرو کې د کوم پرمختګ خبر ورکړل شوی دی. پرون د حکومت د مذاکراتي ټیم غړي نادر نادري پر ټویټر ولیکل؛ نهه ورځې کېږي چې مقابل لوری رسمي مجلس او بحث ته نه دی حاضر شوی.

ولې په دوحه کې د سولې خبرو لا هم نشته او بین الافغاني خبرې په ټپه ولاړې دي؟

حکومت طالبان ملامتوي چې د سولې اراده نه لري، خو داسې ښکاري چې اصلي لامل په امریکا کې نوې اداره او د افغانستان او امریکا تر منځ د هوکړې بیا ارزونه ده. د امریکا نوی حکومت که څه هم ښکاري چې د سولې پروسه به تعقیبوي، خو اوس یې ویلي چې دا هوکړه بیا ارزوي. ویل کېږي چې دا ارزونه به کوم لوی بدلونونه ونه لري او یوازې وړې خبرې به وي چې هغه به د هوکړې د نقض سبب نه شي، خو دا چاره د سولې د روانو خبرو د ځنډ سبب شوې ده. معلومات دا دي چې دا ارزونه به درې اونۍ وخت اخلي او له هغه وروسته به امریکا د سولې پروسه بیا په جدي ډول مخ ته بیايي. د همدې لپاره یې د خلیلزاد ماموریت تایید کړی او د هوکړې له ارزونې وروسته به خلیلزاد بیا خپل ماموریت په جدي ډول پیل کړي.

دا سمه ده چې په دوحه کې دواړو اړخونو ته افغانان ناست دي او د دوی تر منځ خبرې کېږي، خو واقعیت دا دی چې دا خبرې له بهرني فشار او په ځانګړي ډول د امریکا له فشار پرته هېڅ پایله نه لري. که د امریکا فشار نه وي، د بین الافغاني خبرو دواړه اړخونه نه یوازې دا چې کوم پرمختګ او توافق نه کوي، بلکې ان یو له سره خبرو ته هم نه کېني. دا چې د میلادي کال تر پیل وړاندې بهرنیانو رخصتي کوله، نو مذاکراتي ټیمونو هم رخصتي وکړه، ځکه دوی پوهېدل چې د بهرنیانو له مداخلې پرته خبرې بې مانا دي. اوس چې امریکا هوکړه ارزوي او خلیلزاد د خپل ماموریت د دوام لپاره کومه واضح تګلاره نه ده تر لاسه کړې، نو ځکه په دوحه کې د سولې خبرې هم په ټپه ولاړې دي. اوس چې ټاکل شوې په دریو اونیو کې دا هوکړه بیا ارزول شي، نو درې اونۍ به نور هم همدا سوړ حالت وي، خو کله چې د امریکا د نوې اداري دریځ معلوم شي او خلیلزاد هم خپل ماموریت له نوي دریځ سره پیل کړي، نو بین الافغاني خبرې به بیا پیل شي، جدي به شي، په دواړو اړخونو به فشارونه راشي، له خپلو سختو دریځونو به په شاتګ او پر ځینو مسایلو به توافق وکړي.

مور باید ومنو چې په دوحه کې بین الافغاني خبرې طبیعي او خپلمنځي نه دي، بلکې د امریکا په زور او فشار مخ ته ځي. دواړه اړخونه هم د دې پر ځای چې د افغانستان د ستونزې حل هره ورځ د لسګونو شهیدانو وینو، وژنو او ورانۍ ته پام وکړي او د مخنیوي لپاره یې صادقانه خبرې وکړي، دې ته ګوري چې امریکا څه کوي او څه ډول د امریکا د پالیسیو په سیوري کې خپلې ګټې ولټوي. پکار ده چې دواړه اړخونه د سولې لپاره واقعي هڅې وکړي.

# کمبود انرژی برق در افغانستان

عکاشه نثار

انرژی برق یکی از نیازهای اولیه و اساسي زندگی امروزی است و بدون آن پیشرفت های کنونی جهان در عرصه های تکنالوژی، ایجاد فابریکه های بزرگ صنعتی و سرویس های اطلاع رسانی، بوجود نمی آمد. برق آنقدر با زندگی انسانها یکجا شده است که تصور زندگی بدون برق، شاید برای خیلی از مردم جهان، یک امر محال باشد. اما در افغانستان متاسفانه هنوز ما از این نعمت بزرگ بطور دایم برخوردار نمی باشیم، حتی امروز در گوشه های از کشور، می توان جاهای را یافت که انرژی برق هنوز در زندگی انسانها راه نیافته است و هنوز هم از وسایل ساده روشنایی برای آوردن نور و روشنایی در خانه های خود استفاده می کنند.

در این وضعیت با وجود مشکلات از هر جانب کشور ما را احاطه کرده است و باز هم بسیاری از مردم افغانستان در سطح مرکز و ولایات اکنون از اهمیت انرژی برق در زندگی شان آگاه شده اند و میدانند بدون برق امکان استفاده از تکنالوژی و آموزش بهتر وجود ندارد، از این بابت در نگرانی به سر میبرند. مسایل کوچک و بزرگ روزانه افراد با این کالای خدماتی گره خورده است، بدون برق امکان آن موجود نمی باشد که کارخانه های کوچک و بزرگ صنعتی را اندازی گردد، بدون برق امکان ندارد زراعت میکانیزه شود، تولیدات لبنی نگهداری شده و به فروش رسد، تمام از این ها بیانگر بوده که کمبود برق یکی از عمده ترین موانع برای رونق اقتصاد کشور و ناارامی خانواده ها میباشد.

**اهمیت برق برای اقتصاد کشور و زندگی شهروندان**

در دنیا معاصر نقش برق بالاتر از همه کالاهای مصرفی میباشد، در وسایل خانگی و حتی صنعت های پیشرفته جایگاه خاص خود را دارد و در پهلوی آن اهمیت برق در این روزها به گونه ای است که یکی از ستون های امنیتی هر کشور را تشکیل میدهد، چرا که بنیاد کار کرد امنیتی، اطلاعاتی، اقتصادی و سیاسی دولت ها و در نتیجه کشورها بر این کالای نادیدنی اما ضروری استوار است.

ولی در کشور ما افغانستان با وجود دانستن اهمیت برق، مردم حتی در کارهای عام نمی توانند از برق استفاده کنند و در پهلوی تمام مشکلات از قطع برق نیز رنج میبرند.

شرکت برشنا قسمیکه در اعلامیه بیان کردند که افغانستان برای رفع نیازمندی برق سالانه اش از ایران، ازبکستان، ترکمنستان و تاجکستان حدود هزار میگاوات برق میخرد، که ۲۷۰ تا ۳۲۰ میلیون دالر برایش هزینه می نمایند، اگر با این مقدار پول را روی بندهای خود سرمایه گذار نماییم، بدون شک سال آینده آن این ۳۲۰ میلیون دالر میشود که دولت روی پروژه های دیگر سرمایه گذاری نمایند و پول که از این بندها بدست می آید، دوباره به دولت میرسد و سبب افزایش درآمد دولت میشود، و کشور را از وابسته گی به همسایگان بیرون می نماید.

همچنان بودن برق کشور تاثیر روی جلوگیری از آلوده گی هم دارد، قسمیکه در گزارشی که یک نهاد هواشناسی امریکایی در سال گذشته به نام «Air Visual» در رده بندی خود از میزان آلودگی هوا داشت، از کابل به نام آلوده ترین شهر جهان نام برده شده بود. دلیل این آلوده گی استفاده بی رویه از جنراتورها، دود موترهای فرسوده و دودحمام و ذغال سنگ میباشد. بهترین راهکار ایجاد پایگاه تولید انرژی بصورت آبی، بادی و خورشیدی میباشد.

اداره تحقیقی ویژه برای باسازی افغانستان (SIGAR) در آخرین گزارش خود به کانگرس ایالات متحده امریکا گفته است، که پس از امنیت برق اولویت دوم برای مردم افغانستان است. در بخش اول این گزارش که زیر عنوان «کشاکش برق، برق رسانی برای افغانستان» نوشته شده، یادآوری شده است که افغانستان پایین ترین نرخ برق رسانی را در جهان دارد و در این کشور از ۳ تن، ۱ تن به شبکه برق وصل است.

**افغانستان چگونه می تواند از ناحیه برق خود کفاء شود؟**

طبق گزارش‌ها افغانستان ظرفیت تولید ۳۱۰ هزار میگاوات برق را از منابع گوناگون داخلی دارد، از میان ۳۱۰ هزار میگاوات ظرفیت موجود تولید انرژی برق در کشور، ۲۳ هزار میگاوات از منابع آب، ۲۰۰ هزار میگاوات برق از آفتاب و بیش از ۶۸ هزار میگاوات برق از از منابع بادی در کشور تولید شده می تواند. برق یک وسیله است توسط آن کشور میتواند به خود کفای قابل توجه برسد، واقعیت اگر افغانستان بتواند انرژی مورد ضرورت خود را از بندهای آب گردان خود مانند: بند نغلو، بند ماهیپر، بند سروبی، بند کجکی و هریرود با درنظرداشت سد سازی و با نظر گرفتن قوانین بین المللی آب تامین کند هم می تواند برای خود برق تولید کند و هم اقتصاد کشور را رونق یابد و اگر در کشور پایگاه های تولیدات برق بصورت آبی، خورشیدی و بادی ساخته شود، تعداد زیاد از مردم صاحب شغل میشوند، شغل این شهروندان تغییرات در نرخ بیکاری رو نما نموده و چرخه اقتصادی کشور را رو به رشد سوق میدهد.

ولی با آن هم افغانستان با بزرگ ترین منابع تولید برق در منطقه متکی به برق وارداتی از کشورهای همسایه است، اکنون ۷۰ درصد انرژی برق مصرفی کشور وارداتی است و تنها ۳۰ درصد آن از منابع داخلی تولید میشود.

افغانستان بصورت مجموع ۲۰۰۰ میگاوات انرژی برق ضرورت دارد، به گفته مسوولان شرکت بریشنا، مصرف حد اعظمی برق کابل در روزهای تابستان، تا ۳۳۸ میگاوات برق میرسد که از جمله ۳۰۰ میگاوات آن را برق وارداتی تشکیل میدهد و در حدود ۳۸ میگاوات دیگر آن از مجموع ۸۸ میگاوات برق از بند نغلو و سروبی می باشد؛ اما در فصل زمستان کابل به بیش از ۵۰۰ میگاوات برق نیاز دارد.

دولت با وجود که هزینه هنگفت را برای وارد نمودن برق پرداخت می نماید، در ۱۷ سال گذشته افغانستان طی گزارش‌ها ارایه شده ۸۰۰ میلیون دالر برای انتقال برق از کشورهای آسیایی میانه به کشور هزینه کرده است، ولی نه تنها ضرر اقتصادی و وابسته گی را متحمل گردیده است، بلکه همچنان شهروندان کشور نه تنها مناطق دور دست و روستایی؛ بلکه پایتخت همچنان با مشکل سراسری کمبود برق مواجه میباشند، در حال حاضر تنها در حدود ۳۵ درصد از شهروندان افغانستان به برق دسترسی دارند.

**راه بیرون رفت از معضلهء کمبود برق**

یکی از دلایل شادمانی خانه های ما امروزه روشنایی خانه های ما با انرژی برق می باشد، نیاز شهر کابل، پایتخت افغاسنتان در سال ۲۰۰۳ میلادی حدود ۱۲۰ میگاوات برق برآورد شده بود، ولی در آن زمان ۷۰ میگاوات برق در داخل کشور تولید می گردید. میزان تولید و نیازمندی برق در شهر بیشتر موازی به هم بوده، با بیشرفت زمان و توسعه شهرها، نیاز به انرژی رشد صعودی یافت ولی منابع تامین آن همچنان محدود باقی ماند. از آن زمان الی امروز دولت طرح مختلف برای کاهش و از بین بردن این معضله ارایه نموده است ولی اکثریت بدون اقدام عملی صرف روی گفتار و کاغذ باقی گردید.

افغانستان به شدت به برق وارداتی متکی است، ناامنی و عدم مدیریت درست مسؤلین دولتی تامین انرژی برق را به چالش مواجه نموده است. علاوه بر آن پایه های برق چندین بار توسط گروه های مخالف و باج گیران قطع شده است. کمبود برق در کشور بیشتر از هر زمان در فصل زمستان بیشتر میگردد، سخنگوی وزارت انرژی و آب علت آن را در استفاده عدم متوازن وسایل برقی عنوان می نماید، ولی رفت آمدها و نبود برق یک امر همیشه گی بوده و موارد فوق سبب شده که قطع برق در افغانستان به یک امر معمول تبدیل گردد. و مردم شکایت و انتقادات همیشه گی از آن داشته باشند.

نبود برق سبب سست شدن روند کار صنعت کاران و کسبه کاران میگردد، دانش آموزان از طرف شب نمی توانند به راحتی درس بخوانند، به همین قسم عام مردم در حد موقعیت خود از نبود انرژی برق در زندگی روزمره رنج میبرند.


برای رفع معضله کمبود انرژی برق نیاز به این است که کشور خودکفاه گردد، برای قصیرالمدت شاید این امر بصورت گران رونماه گردد ولی برای طویل المدت سبب تغییرات واقعی و بنیادی میگردد. و برای تغییرات بنیادی و زیر بنایی اولین مقدمه امنیت و صلح میباشد تا باشد احزاب و گروها در کنار هم بتوانند دشمنان واقعی کشور را شناسایی نمایند و برای حفظ امنیت تلاش گردد، فسادکاران و طمع جویان شناسایی شوند، چون وضعیت هرج و مرج فعلی سبب می گردد فرصت ها از دست رفته و تلاش ها بی نتیجه باشند. وابسته گی ما با کشورهای همسایه ادامه خواهد داشت، کشورها هم با نظرداشت به مصلحت خود هر گونه مساعد باشد با ما معامله خواهند کرد. هزینه را که ما میتوانیم به روی زیربناهای خود سرمایه‌گذاری نمایم مجبوراً به دسترسی دیگران قرار دهیم. تاریخ پیشرفت تمدن ها و کشورها ثابت کرده است، که یک نسل باید فداکار باشد تا چند نسل آینده آنها در رفاه و آسایش بسر برند. در اوضاع امروزی کشور افغانستان نیازمند است که از خواسته ها و مصلحت های فردی افراد بگذرد، روی اتحاد و امنیت سراسری کشور توجه گردد، و روی تولیدات داخلی و صنعت کشور طرح عملی ارایه گردیده و از داشته های داخلی کشور اکثریت استفاده صورت گیرد. تمام این امور سبب افزایش خط اقتصادی کشور گردیده و کشوری که از لحاظ اقتصادی وابسته نباشد، میتواند مستقلانه در جهان موضع گیرد.

## د ملا برادر په مشرۍ طالب پلاوی ایران ته تللی

په قطر کې د طالبانو د سیاسي دفتر مشر ملا عبدالغني برادر په مشرۍ یو طالب پلاوی پرون د ایراني چارواکو په رسمي بلنه تهران ته تللی دی.

په قطر کې د طالبانو د سیاسي دفتر ویاند ډاکتر محمد نعیم پر خپل ټویټر لیکلي، چې ټاکل شوې دغه طالب پلاوی له ایراني چارواکو سره د افغانستان د سیاسي او امنیتي وضعیت او په ایران کې د مېشتو افغان کډوالو د وضعیت په اړه خبرې وکړي.

د ایران د بهرنیو چارو وزارت هم ویلي چې دغه هیواد ته د طالبانو د سیاسي دفتر د پلاوي سفر د ایران په رسمي بلنه تر سره شوی او یاد پلاوی پرون تهران ته رسېدلی دی.



دغه وزارت په یوه اعلامیه کې ویلي چې ټاکل شوې طالب پلاوی د ایران د بهرنیو چارو وزیر او د افغانستان لپاره د ایران له ځانګړي استازي سره د افغان سولې په اړه خبرې وکړي.

د طالبانو د سیاسي دفتر پلاوي تر دې مخکې هم پر یو لړ مسائلو د خبرو لپاره ایران ته سفرونه کړي دي.

تر دې مخکې د امریکا دفاع وزارت ویلي وو چې ایران له ۲۰۰۷ کال راپدېخوا په منظم ډول د وسله والو طالبانو ملاتړ کوي. د امریکا دفاع وزارت همدارنګه زیاته کړې وه چې ایران په افغانستان کې د امریکا او لوېدیځ د نفوذ مخنیوي لپاره د وسله والو طالبانو ملاتړ ته دوام ورکړی دی او دغه ډلې ته وسلې او پوځي تجهیزات ورکوي.

ایران تر دې مخکې له طالبانو سره د مرستې په اړه د امریکا د دفاع وزارت تورونه رد کړي دي؛ خو د دغه هیواد د بهرنیو چارو وزیر جواد ظریف شاوخوا یوه میاشت مخکې ویلي وو، چې د خپلو پولو د امنیت نیولو په خاطر له طالبانو سره اړیکې لري.

ایران ته د طالب پلاوي سفر په داسې مهال تر سره کیږي چې روانه میلادي میاشت په دوحه کې دویم پړاو بین الافغاني مذاکرات پیل شول، خو تر دا مهاله پکې د کوم ښکاره پرمختګ راپور نه دی ورکړل شوی.

# د جگړې شدت او له بایډن د سولې تمه

محمد طارق صابر

په هېواد جگړه، بمي چاودنې او هدفي وژنې په بې‌ساري ډول زیاتې شوې دي. په پلازمېنه کابل کې هر ورځ هدفي وژنې او د مقناطسي ماین چاودنې کېږي. د سولې روان بهیر ټکنی شوی او پر ځای یې حکومت او طالبان پر جگړه ټینگار لري. د امریکا د بهرنیو چارو نوې اداري ویلي چې له طالبانو سره به پر شوې هوکړه له سره کتنه وکړي. دې ځرگندونې ډېر غبرگونونه پارولي دي. د پاکستان د بهرنیو چارو وزیر محمود قریشي ویلي چې امریکا دې له طالبانو سر د شوې هوکړې له مخې مخ ته لاړه شي. طالبانو ویلي چې د دوحې هوکړې ته ژمن دي او له امریکا هم غواړي چې خپله ژمنتیا ثابته کړي؛ خو افغان حکومت د امریکا د بهرنیو چارو وزارت له ځرگندونو هرکلی کړی او ویلي چې طالبانو تاوتریخوالی ډېر کړی او د دوحې هوکړې ته ژمن نه دي.

اوسمهال حکومت او طالبان د بایډن تصمیم ته په تمه دي. له همدې امله په دوحه کې د سولې خبرې سړې شوې او پر ځای یې د جگړې ډگر گرم او خونړی شوی دی. بایډن ډیموکرات دی چې څو ورځې مخکې یې په سختو امنیتي تدابیرو کې د امریکا د نوي ولسمشر په توگه لوړه وکړه. امریکا له ډېرو داخلي او بهرنیو بحرانو سره مخ ده. ټرمپ هم ځینې داخلي او بهرنۍ ستونزې نوي ولسمشر ته په میراث پرې اېښې دي.

بایډن به له هر څه مخکې خپلو داخلي ستونزو ته لومړیتوب ورکړي. کرونا وبا له دویمې نړیوالې جگړې ډېر امریکایان وژلي دي. توکمپالنې په امریکا کې یو ځل بیا سر راپورته کړی او که کنټرول نه شي، احتمال شته چې هلته داخلي جگړه وشي. له همدې امله بایډن له امریکایانو د یووالي غوښتنه وکړه. دغه راز امریکا له اقتصادي پلوه هم د یوه نړیوال ځواک په توگه ښه حالت نه لري. بایډن ژمنه کړې چې له نړۍ سره به خپلې اړیکې د پخوا په څېر له سره پیل کړي او امریکا به یو ځل بیا په نړۍ کې خپل برم تر لاسه کړي.

امریکا له همدې امله د افغان سولې لپاره حوصله لري، ځکه د دوحې د هوکړې په وسیله یې خپل عسکر او اډې له حملو خوندي کړي دي او ښه فرصت لري چې پر نورو ستونزو تمرکز وکړي. دا چې امریکا د دوحې پر هوکړه بیا کتنه کوي، له یوې خوا حکومت ته شین څراغ دی او له بلې خوا طالبانو ته د خلیلزاد د ماموریت دوام، د خپلې ژمنتیا په توگه ښکاره کوي.

د امریکا سیاست د گټو پر محور را څرخي. که په جگړه کې یې گټه وي، جگړه کوي او که له سیاسي لارې خپلو موخو او گټو ته رسېږي، هغه غوره کوي. له همدې امله په امریکا کې دوه لوی او مشهور حزبونه؛ جمهوري غوښتونکي او ډیموکراتان فعالیت لري. جمهوري غوښتونکي تر ډېره پر اقتصادي ازادۍ ټینگار لري. د دغه حزب شاته ډېری د وسلو تولیدي کمپنۍ دي او د حزب له غړو په ټاکنو کې ملاتړ کوي. کله چې واک تر لاسه کړي، د وسلو پانگوال له هغوی د جگړې غوښتنه کوي، څو تولید شوې وسلې یې په لوړه بیه وپلورل شي. افغانستان او عراق هم د امریکا د پخواني جمهوري غوښتونکي ولسمشر جورج ډبلیو بوش په وخت کې اشغال شول او خونړۍ جگړې پکې وشوې. په افغانستان کې امریکا له تروریزم سره د مبارزې په نوم ۱۹ کلنه جگړه وکړه، خو امریکایي ولس په دې نږدې وروستیو کې پوه شو، چې په افغانستان کې د میلیاردونو ډالرو په ارزښت جگړه، بې مانا وه. له همدې امله د امریکا پخواني ولسمشر ډونالډ ټرمپ د ۲۰۱۶ کال په ټاکنو کې امریکایانو ته ژمنه ورکړه، چې خپل عسکر به نور له افغان جگړې ژغوري. د دې لپاره چې ټرمپ خپله ژمنه پوره کړي او بیا واک خپل کړي، په ۲۰۱۸ کال کې یې زلمی خلیلزاد د سولې په چارو کې خپل ځانگړی استازی کړ.

ډیموکراتان بیا ټولنیزې ازادۍ او له سیاسي لارې پرمختگ غواړي. د دې حزب شاته ډېری خیریه او سیاسي موسسې دي. ډیموکراتان ستر نیرنگ لري او له سیاسي لارې ډېری بې‌وزله ملتونه د ځان تابع کوي. د دغو دواړو حزبونو تر منځ کډ ارزښت گټه ده؛ خو د گټې تر لاسه کولو لپاره یې ابزار او وسیلې توپیر لري.

اوس که حکومت او طالبان پر جگړه ټینگار وکړي او د بایډن تصمیم ته په تمه شي، عام ولس به لا نور وځورېږي او د خونړۍ جگړې په اور کې به ډېری کورنۍ بیا لولپه کړي. بایډن که له خپلو داخلي ستونزو فارغ شي، بیا به هم افغانانو ته داسې نسخه او حللاره وړاندې نه کړي، چې درد یې دوا شي. بایډن د یوه ډیموکرات او امریکایي په توگه په سر کې د استعماري امریکا گټو ته ژمن دی؛ نه جنگ ځپلي افغان ولس ته! دا چې د بایډن اداره د سولې پر شوې هوکړه له سره غور کوي، ځرگندېږي چې دغه هېواد نور هم د خپلو گټو په لټه کې دی. که د هوکړې په ارزونه کې د افغان دولت ملاتړ وکړي یا د طالبانو، بیا هم عام ولس ضرر کوي.

ځکه د امریکا ملاتړ په دې مانا نه دی چې په هغه کې دې خیر او د عامو افغانانو گټه وي. ټرمپ د دوحې پر هوکړه خپل عسکر له جگړې وژغورل، په داسې حال کې چې افغان ځواکونه، طالبان او عام وگړي لا هم له منځه ځي. بایډن به له سیاسي لارې د امریکایي گټو په لټه کې شي او د سولې په روان بهیر کې به له هغه چا سره ودرېږي، چې گټه یې تضمین کړي. روانه جگړه که حکومت او طالبان د فشار په توگه یا په بل هر نوم او موخه کوي، قرباني یې عام ولس دی. له همدې امله باید دواړه لوري په خپلواک ډول د رښتینې سولې پر لور گام واخلي. هغه سوله چې وینه تویېدنه دروي او د امریکا او نورو هېوادونو نا مشروع گټې هم ورسره پای مومي.

# د بین الافغاني مذاکراتو په تړاو بې پروایي؛

## طالب پلاوی د ایران په سفر بوخت دی او افغان پلاوی له روان بهیر شکایت لري



په نړیواله کچه په افغانستان کې د روانې جگړې له هڅو سره هممهاله په دوحه کې د دې مهمې مسئلې په اړه بې پروایي روانه ده. په دوحه کې د افغان حکومت د مذاکراتي پلاوي غړي وایي چې طالبان له نږدې لسو ورځو راهیسې مذاکراتو او د جگړې پر پای ته رسولو خبرو ته نه دي تیار شوي. بلخوا د طالبانو د قطر له دفتره یو پلاوی ایران ته تللی او ټاکل شوې چې له ایراني چارواکو سره پر مهمو مسایلو خبرې وکړي. بلخوا امریکا بیا تازه ویلي چې طالبان لا هم له القاعده شبکې سره اړیکه لري او دوی یې روزنه او مالي ملاتړ کوي.

د کابل په گډون د هېواد په ډېرو لویو ښارونو کې ترهگریز او هدفي بریدونه ډېر شوي دي. خو افغانان له دې ټولو جگړو، گواښونو او بریدونو سره دې ته هیله من دي چې په دوحه کې به بین الافغاني مذاکرات ژر مخ ته لاړ شي او دلته به روانه جگړه پای ته ورسېږي. خو په دوحه کې هر څه د افغانانو د هیلو پر خلاف په ټپه ولاړ دي. سره له دې چې په رسنیو کې د طالبانو او افغان حکومت د مذاکراتو د ځنډ راپورونه خپرېدل، خو اوس مذاکراتي پلاوي په رسمي توگه ویلي چې طالبان د جگړې پر پای ته رسولو خبرو ته نه دي حاضر شوي او نه هم له تېرو څو ورځو راهیسې د دواړو لورو تر منځ لیده کاته شوي دي.

په دوحه کې د افغان حکومت د مذاکراتي پلاوي غړی نادر نادري وایي، د ټولو افغانانو ستره هیله او هدف دا دی چې روانې جگړې ختمې شي او د دواړو لورو تر منځ د سولې هوکړه رامنځ ته شي چې په هېواد کې ورسره جوخت دایمي اوربند رامنځ ته شي، خو طالبانو له تېرو نهو ورځو راهیسې له افغان پلاوي سره نه دي کتلي او د جگړې پر پای ته رسولو خبرې نه کوي. د ده په خبره، افغان پلاوی په پوره صداقت د همدې موخې لپاره چې افغان جگړه به د خبرو له لارې ختمېږي په دوحه کې دی، خو طالبان د جگړې پر ختمولو د جلسو دایرولو ته نه دي حاضر. نادري زیاته کړې: «د سولې ټینگښت او د افغانستان د خلکو له وژنو څخه مخنیوی د افغانستان د دولت او ولس لومړیتوب دی. د افغانستان اسلامي جمهوریت هیئت په پوره صداقت او اخلاص سره د همدې هدف لپاره په دوحه کې دی. نهه ورځې کېږي چې مقابل لوری د جنگ د ختمیدو لپاره رسمي مجلس او بحث ته اماده نه دی.»

تر دې وړاندې هم داسې گنگوسې خپرې شوې وې چې گواکې په دوحه کې د طالبانو او افغان حکومت د مذاکراتي پلاوي تر منځ مذاکرات په ټپه ولاړ دي. بلخوا په ټولنیزو رسنیو او سیاسي بحثونو کې دا مسایل ځرگندېږي چې دواړه لوري د مذاکراتو په اړه د امریکا د نوې ادارې دریځ ته په تمه دي؛ خو د افغان حکومت د پلاوي تازه ځرگندونې ښیي چې گواکې طالبان له دې خبرو ځان لرې ساتي.

بلخوا د طالبانو یو پلاوی د ملا برادر په مشرۍ له دوحې ایران ته تللی دی. د طالبانو د قطر دفتر ویاند داکټر نعیم ویلي چې د طالبانو د مشر سیاسي مرستیال ملا برادر تهران ته رسېدلی دی او د دغه هېواد له چارواکو سره پر افغان سوله او د په ایران کې د مېشتو افغان کډوالو پر ستونزو او وضعیت خبرې کوي. د ډاکټر نعیم په خبره، په دې سفر کې همدا راز په سیمه کې پر روان وضعیت هم بحثونه کېږي. هغه وایي: «د سیاسي دفتر رییس محترم ملا برادر او ور سره هیت د ایران اسلامي جمهوریت په رسمي بلنه نوموړي هېواد ته ورسید. یاد هیت به د گاونډي هېواد له اړونده چارواکو سره د دواړو هېوادونو د اړیکو خبرې وکړي.»

د طالبانو او افغان حکومت تر منځ مذاکرات داسې مهال له مبهم حالت او ځنډونو سره مخ دي، چې په هېواد کې بیا جگړه شدیده شوې ده او هره ورځ دواړو لورو ته تلفات اوړي. عام افغانان هم دا هیله لري چې دلته روانه جگړه ژر تر ژره ختمه کړل شي او دایمي اوربند ټینگ شي.

د بشري حقونو د څار نړیوال سازمان:

# د روسیې حکومت د بشر حقونو معیارونه تر پښو لاندې کړي




د بشري حقونو د څار نړیوال سازمان وایي، له مظاهره چیانو سره د روسیې د حکومت چلند ثابته کړه، چې په دغه هېواد کې د بشري حقونو معیارونه څومره ناوړه دي.

د بشري حقونو د څار نړیوال سازمان په روسیه کې پر بشري وضعیت اندېښنه ښودلې او هغه یې د نړۍ په سطحه تر ټولو ناوړه بللې. په دغه سازمان کې د روسیې د برخې څېړونکې دامیلیا ایتخوژینا ویلي، د اساسي بشري حقونو ځپل مظاهرې او د خلکو شکایتونه لا زیاتوي.

د بشري حقونو د څار نړیوال سازمان وړمه ورځ په یوه اعلامیه کې وویل، د روسیې پولیسو په ډېر بې‌رحمانه چلند سره مظاهره چیان په مستبدانه ډول نیولي دي.

دا په داسې حال کې ده چې د تېرې شنبې په ورځ د روسیې په لسگونو ښارونو کې په زرگونو کسانو د کرملین د اصلي منتقد الکسي ناوالني د خوشې کېدو لپاره مظاهرې وکړې.

دا په وروستیو کلونو کې د روسیې د حکومت پر خلاف تر ټولو پراخې مظاهرې بلل شوې دي.

د (OVD-Info) په نوم د یوه خپلواک سیاسي څارونکي بنسټ په حواله، د روسیې امنیتي ځواکونو د سوله ییزو مظاهرو پر مهال تر ۳۷۰۰ ډېر کسان نیولي دي. بلخوا په روسیه کې د ماشومانو د حقونو ملاتړې انا کوزنیڅووا وایي، په نیول شویو کې لږ تر لږه ۳۰۰ مظاهره چیان یې ډېر کشران دي. راپورونه وایي، روسي چارواکو د هغو کسانو پر ضد جرمي دوسیې پرانیستې، چې د ډله ییزو مظاهرو لپاره یې بړغ پورته کړی و. بلخوا د روسیې ولسمشر ولادیمیر پوتین د دوشنبې په ورځ وویل، په روسیه کې ټول خلک له اساسي حقونو برخمن دي او څوک باید قانون تر پښو لاندې نه کړي.

پوتین زیاته کړې: «ټول خلک حق لري چې خپل نظریات په هغه چوکاټ کې بیان کړي، چې قانون ورته ټاکلی دی. هغه څه چې له قانون بهر وي، نه یوازې اغېزناک نه دي، بلکې خطرناک هم تمامېږي.»

ولسمشر پوتین د الکسي ناوالني هغه تورونه رد کړل چې په کې ویل شوي وو، پوتین تور سمندرگي ته څېرمه یوه ډېره عصري ماڼۍ لري. د کرملین منتقد او د اداري فساد ضد فعال الکسي ناوالني د جنورۍ په ۱۷مه له جرمني د راستنېدو پر مهال د مسکو په یوه هوایي ډگر کې ونیول شو. اوس به محکمه په راتلونکې اونۍ کې پرېکړه کوي، چې د ناوالني د بند موده وغځوي او که یې خوشې کړي.

دا په داسې حال کې ده چې د پولیسو لخوا د الکسي ناوالني او زرگونو نورو مظاهره چیانو پر نیول کېدو د اروپایي ټولنې د بهرنیو چارو وزیرانو وړمه ورځ بحث وکړ.


تر دې مخکې د امریکا متحده ایالتونو د ناوالني د سمدستي خوشې کېدو غوښتنه کړې وه.

## د کتــاب خبـرې

# د جاسوسی پېښلړ
# RAW, ISI
# او د سولې وهم

◎ لیکوالان: اې. اېس دولت، اسددورانی او ادېتیا سېنها
◎ ژباړه: د اکسوس د ژباړې بورډ

### څلورمه برخه
### کابوکي




دورانی: په پاکستان کې د مودي د ټاکل کېدو پر وړاندې غبرگون دا و چې د هند لپاره ښه دی. پرېږده یې چې مودي د هند مسئول وي، د هند نوم به ور خراب کړي او احتمالاً به یې داخلي توازن هم ور خراب کړي.
زه یې دې عجیبې رویې ته گوته په غاښ پاتې نه وم. په افغانستان کې یې پاکستان په غوسه کړی و، نو پاکستان ته یې بیا د دې ژر راتلو مطلب څه و؟ دی د لاهور په رایونډ کې د نواز شریف د لمسۍ واده ته راغلی و. د ده ډرامې او تماشې یوه د کتلو وړ گنگستیاً خپره کړې وه. خلک شوکه شوي وو او یوازې ننداره یې کوله.
زه د واجپای غونډې خلکو ته ترجیح ورکوم، که څه هم یوې پایلې ته و نه رسېد، خو کړنلاره یې ښه وه. څوک چې ښې اړیکې ساتي، نو تا نه خوابدی کوي. مطلب مې دا نه دی چې زه دې واجپای او مودي سره مساوي کړم، د دواړو تر منځ یو عالم تفاوتونه شته. موږ به ډېر خوشاله وای که د واجپای غونډې یو کس د پاکستان لومړی وزیر وای. یو شاعر، یو فیلسوف. دی به زموږ لپاره ډېر ښه لومړی وزیر وای.
دولت: پاکستان چا ته ترجیح ورکوي، منموهن سېنگ که نریندرا مودي ته؟ یو څه تضاد شته، ځکه جنرال چېرته ویلي وو چې په هند کې یو سخت سری انسان به د پاکستان په گټه وي. ځکه خو زه پر دې باور یم چې پاکستان په کشمیر کې پر گډوډۍ خوشاله دی.
ډېر خلک وایي چې پر هند لویه بلا را نازله شوې ده. مخکې مې ویلي چې واجپای یو استثنایي لومړی وزیر و، د ده په حکومت کې استثنایي خلک را ټول شوي وو. خو د مودي کابینه، کابینې ته نه پاتې کېږي. مودي دلته دی، وزیر یې په ترکستان کې ولاړ وي.یوازېنی کس چې مودي ته نږدې دی، هغه ډوال دی.
ان د کورنیو چارو وزیر یې چې یو منلی شخص دی، د کشمیر په مسئله کې عاجز دی.
دورانی: راجنات؟
دولت: راجنات!
واجپای چې کمیس یې پر مودي ډېر اوږد ښکاري، ان هغه لا له اډواني سره لاس او گرېوان و. مودي د خپل زړه سړی دی. ان د (RSS) په تړاو لا څه نه کوي.
سېنها: خو د دوی جهان بیني یو ډول ده. بلاخره مودي څه تر لاسه کړي؟
دولت: خلک وایي باید وخت ورکړل شي، ۱۵ کاله.
دې زه یوې بلې خبرې ته متوجه کړم. جنرال صېب یا پاکستان له هغه څه سره ستونزه نه لري چې په ۲۰۱۶ کال کې په هند کې پیل شول. جنرال یو جدي او واقع‌گرا استخباراتي مامور دی، دی وایي که مودي یې خوښېده او که نه، خو د پاکستان او هند د اړیکو د ښه کېدلو لپاره دا ښه فرصت و. ده داسې انگېرلې وه چې پاکستان له «BJP Hindu» دولت سره معامله کړلی شي. لکه په هند کې چې استدلال کېږي چې د معاملې لپاره بیا په پاکستان کې یو نظامي حکومت پکار دی. اډواني به ویل که اړیکې ښه کېدل غواړو، نو په هند کې د «BJP» حکومت پکار دی. اوس د مودي حکومت، د «BJP» حکومت دی. تر دې نو نه ښه کېږي. په پارلمان کې زیات غږ لري. ښایي راسره به یې و نه مني، خو په ۲۰۱۹ کال کې به مودي په پارلمان کې دومره څوکۍ و نه گټي.«BJP» به بیا د ډېر وخت لپاره دومره څوکۍ و نه گټي.
دورانی: ISI ځکه سخت سرو ته اهمیت ورکوي چې دوی سختې پرېکړې کولای شي. دې ما ته یو وخت را یاد کړ، د ۱۹۹۷ پای، د ۱۹۹۸ تر ټاکنو مخکې وخت چې «BJP» وگټل. ما په «نیوز» ورځپاڼه کې یوه مقاله خپره کړه چې عنوان یې و «د انډیا له لېوانو څوک ډارېږي». په مقاله کې مې ویلي وو چې موږ باید واک ته د «BJP» له رسېدو اندېښمن نه شو، ځکه واک ته د دوی رسېدل به زموږ لپاره ښه وي. که نور هېڅ هم و نه شي، د سیکولر هند خیال خو به والوځي.
څو اونۍ وروسته په «Coimbatore» کې چاودنه وشوه، اډواني هلته یوې غونډې ته وینا کوله. له دې د «BJP» ملاتړ ډېر شو، په سوېلي هند کې دوی ډېر ملاتړي نه درلودل. تر دې چاودنې وروسته د سویس یوې خپرونې زما لیکنه را اخیستې وه او له دې چاودنې سره یې تړاو ورکړی و. په مقاله کې ویل شوي وو، دا چې دورانی وایي چې د «BJP» بریا د دوی په گټه ده، نو ښایي په چاودنه کې د ISI لاس وي.
دوی ټاکنې وگټلې، ما ویل چې کاشکې دوی یوه اټومي ازموینه کړې وای، که یې وکړي نو موږ ته به هم د ورته کار زرینه موقع په لاس راشي.
د واجپای تر حکومت وروسته موږ دې نتیجې ته ورسېدو چې په هند کې داسې یو حکومت چې مسلمانان را وپاروي، زموږ لپاره بد نه دی. دا گوند به ښایي داسې پرېکړې وکړي چې «کانگرېس» نه شوای کولی.
سېنها: بوش چې پر عراق یرغل وکړ، نو ویل کېدل چې حالت به نور خراب نه شي. اوس نو خلک لا بوش منځلاری بولي. که «Yogi Adityanath» لومړی وزیر شي، نو تاسې بیا وایاست چې مودی بڑا شریف آدمی تھا؛ د مودي خو ډېر ښه سړی و».

**دوام لري...**

# د سوفي نړۍ

**اکسوس کتابپلورنځی**

د دغه ناول په اړه استاد اجمل ښکلی وایي: «(د سوفي نړۍ) د ناروېژي لیکوال جوستېین گاړډر ناول دی. د ناول کیسه پر یوې پنځلس کلنې نجلۍ چورلي. د نجلۍ نوم سوفي دی او په یوناني کې سوفي عقل او پوهې ته وایي، چې لیکوال لاسي دا نوم پرې اېښی.
سوفي یوه ورځې له ښوونځي کور ته راروانه وي، چې د خپل وره په پوستخونه کې ورته لیک پروت وي. له دې سره د لیکونو لړۍ پیل شي، چې په پای کې مخامخ کتنو ته خبره ورسي. سوفي ته چې څوک خطونه رالېږي، هغه یو فیلسوف وي، چې سوفي ته فلسفه ښیي.
د سوفي او استاد خبرې یې د اثر په بڼه په لبنان کې ناست مېجر البرټ کنیگ په ناروې کې خپلې ناستې لور هیلډې ته لیکي. دا ناول په اصل کې د فلسفې تاریخ دی، چې د لرغوني یونان له لومړنیو ساینسپوهانو او فلسفیانو نه پیل شوی او د شلمې پېړۍ د ژان پل سارتر پر وجودیت باندې ختم دی. د فلسفې او فرهنگ تارېخونه ډېر دي او په اسانه یې موندلای شو؛ خو دا ناول څو امتیازه لري:
لومړی؛ د دې ناول لیکوال تر ناول لیکوالو مخکې په لیسه کې د فلسفې استاد و. دا ناول یې په غالب گومان د لیسې شاگردانو ته لیکلی دی او د هغوی په ذهني کچ برابر دی.
دویم؛ د دې مطلب دا نه دی چې په لوړ کچ له دې اثره استفاده نه کېږي. د (سوفي نړۍ) د بېلابېلو فلسفي مکتبونو هغه تیاره اړخونه رااخلي، چې ښایي پخوا مو نه وي لوستي او پخپله مطالعه کې یې تشه محسوسوو.
درېیم؛ دا اثر د بېلابېلو فلسفي مکتبونو، ساینسي جریانونو او فرهنگونو مهمو اړخونو ته ارزښت ورکوي او په تفصیل پسې سر نه گرځوي، ځکه چې تفصیل د معلوماتو ترمنځ انسجام ته زیان رسوي او د لوستونکي حافظه یې د کلي مفهوم په اخیستو کې له ستونزو سره مخېږي.
هسې دا اثر ښه پنډ دی، خو د دې مطلب دا نه دی چې لوستونکی دې یې په یوه ناسته کې ولولي. ښایي په یوه ناسته کې ایله سړی یو یا نیم فلسفي مکتب ایله ولوستلای شي. لیکوال هم ښایي په همدې خاطر د هر فلسفي مکتب په تشریح کې له لنډیزه کار اخیستی، چې لوستونکی پکې دمه وکړي. دا ناول پر دومره مهمو مسایلو خبرې کوي، چې په دمه کې هم سړی دمې ته نه پرېږدي او پر لوستي فلسفي مکتب او ژوند یې فکر کولو ته اړ باسي.
څلورم؛ لیکوال د ناول هره مهمه خبره په بېلگو کې وړاندې کړې ده. دې کیسو که له یوې خوا پېچلې فلسفي مسئلې اسانه کړې، له بلې خوا یې اثر هنري کړی هم دی. د تېرو فلسفي مکتبونو په مخالفت کې یې د وجودیت د فلسفې د بنسټگر کییر کیگارډ د فکر په یوه مثال کې وړاندې کړی، چې یوه ورځ بودا ته خپل یوه پیرو وویل: د «نړۍ څه شی ده؟ انسان څه شی دی؟» پوښتنو واضح ځوابونه راکولای شئ. بودا ورته په ځواب کې وویل، چې که ته په زهرجنو غشو لگېدلی پروت یې؛ نو ته به له ځانه دا پوښتنه کوې، چې دا غشی له کومه راغی او په کومو زهرو لړلی و؟ که د داسې کس لار به څارې، چې راشي او ستا له بدن نه غشي وباسي او د ټپ درملنه دې وکړي؟
دا د کییرکیگارډ نظر دی او مطلب یې دا نه دی، چې انسان گنې رښتیا هم د خپل وجود په اړه له خپلو پوښتنو سره نه مخېږي. د انسان چې لومړنۍ او دویمې اړتیا پوره شي؛ نو هرومرو له ځانه پوښتنه کوي، چې زه څوک یم او دا نړۍ له کومه شوه؟
پنځم؛ له یوې خوا دا اثر موږ ته د اروپا د فرهنگ(مذهب، فلسفې، ساینس او هنر) د تاریخ په اړه یو عمومي تصور راکوي او له بلې خوا راته د بېلابېلو فلسفي مکتبونو او ساینسي جریانونو د رامنځته کېدو او ختمېدو عوامل په گوته کوي، چې فلسفې څرنگه رامنځته کېږي او څرنگه له منځه ځي. څرنگه یو فلسفي مکتب د بل فلسفي مکتب زنې ورتېږي او څرنگه نوی مکتب د واقعیت د درک دعوه کوي.
مینه‌وال کولای شي دا کتاب پر اکسوس سربېره د ښار په نورو لویو کتابپلورنځیو کې هم په مناسب قیمت تر لاسه کړي.

## روانه اونۍ اکسوس کتاب پلورنځي ته تازه راغلي کتابونه

| شمېره | د کتاب نوم | لیکوال / ژباړن | بیه |
|---|---|---|---|
| ۱ | The Power of Habbit | Charles Duhigg | ۲۷۰؋ |
| ۲ | The View from castle Vabm castle rock | Alice Munro | ۲۳۰؋ |
| ۳ | Never let me Nab Go | kazuo Ishiguro | ۲۰۰؋ |
| ٤ | Girl wash your Gabur face | Rachel Hollis | ۱۲۰؋ |
| ٥ | Girl Stop Aabpoogizing | Rachel Hollis | ۲۰۰؋ |
| ٦ | Ask and it is Given Dr Wabs Given | Dr. Wayne W. Dyer | ۲۵۰؋ |
| ۷ | Change your THOUGHTS Change your LIFE | WAYNE W. DYER | ۳۳۰؋ |
| ۸ | THE UNIVERSE HAS YOUR BACKab HAS YOUR BACK | GABRIELLE BERNSTEIN | ۳۸۰؋ |
| ۹ | HIGHT FERFORMANCE HABITSabMANCE HABITS | BREDON BURCHARD | ۳۸۰؋ |
| ۱۰ | You are a Badass at Making Mabdass at Making Money | Jen Sincero | ۲۳۰؋ |
| ۱۱ | Be the Hands and Fab and Feet | Nick Vujicic | ۲۰۰؋ |
| ۱۲ | The End of History and the Last Mabistory and the Last Man | Francis Fukyama | ۱۸۰؋ |
| ۱۳ | Awaken the Giant Wabiant Within | Anthony Robbins | ۳۰۰؋ |
| ۱٤ | A THOUSAND SPLENDID SUNSabPLENDID SUNS | Khaled Hosseini | ۲۵۰؋ |
| ۱٥ | Originals how non conformists non-conformabw non-conformists move the world | Adam Grant | ۲۰۰؋ |
| ۱٦ | How to Stop TabTime | Matt Haig | ۱۷۰؋ |
| ۱۷ | Sea Pabhaled | Khaled Hosseini | ۱۰۰؋ |
| ۱۸ | Still Mabo | Jojo Moyes | ۲۷۰؋ |
| ۱۹ | On The COMe UabUp | ANGIE THOMAS | ۳۰۰؋ |
| ۲۰ | Jump Take the Leap of fait tho Achieve your life of Aabe Leap of fait tho Achieve your life of Abundance | Steve Harvey | ۱۷۰؋ |
| ۲۱ | A Very Large Expanse of Sab Expanse of Sea | Tahereh Mafi | ۲۷۰؋ |
| ۲۲ | SAY IT LIKE OBAMA AND WINabOBAMA AND WIN! | SHEL LEANNE | ۱۵۰؋ |
| ۲۳ | The Power of Positiv Thinking Nab Positiv Thinking | Norman Vincent Peale | ۲۰۰؋ |
| ۲٤ | Motivate to Win | «Richard Denny» | ۱۲۰؋ |
| ۲٥ | Educated A Mabemoir | Tara Westover | ۲۸۰؋ |
| ۲٦ | Sapiens A Brief History of Humankind Yabief History of Humankind | Yuval Noah Harari | ۳۸۰؋ |
| ۲۷ | THE POWER OF HABIT SMATER FASTER BETTER-ab HABIT SMATER FASTER BETTER | CHARLES DUHIGG | ۲۵۰؋ |
| ۲۸ | Homo Deus A Brief History of Tomorrow | Yuval Noah Harari | ۲۷۰؋ |
| ۲۹ | Nineteen Eighty Fabhty-Four 1984 | George Orwell | ۱۷۰؋ |
| ۳۰ | پښتومعاني | محمود مرهون | ۳۰۰؋ |

پته: دهبوریو پارک جنوبي دروازې ته مخامخ اړیکه: 0202504652 - 0798-98-9696

## اقتصاد

### د اسعارو بیې

| | |
|---|---|
| $ | ۷۷,۲ |
| € | ۹۳,٤ |
| Rp. | ٤۷۷ |
| ₹ | ۱۰۵۰ |
| ¥ | ۱۱ |
| £ | ۱۰٤,۲ |

### بېړنۍ شمېرې

پولیس
119 - 100

امبولانس
112

اتاترک روغتون
0202500312

ملالۍ زېږنتون
0202201377

وزیر محمد اکبر خان روغتون
0202301360

رابعه بلخي روغتون
0202100439

د کرونا روغتیايي مرکز
166

همیانی

# اته مثبت باورونه چې خپلو مثبتو موخو ته مو رسوي

ژباړه: عطامحمد میاخېل

د بریا لاره ډېرې لوړې او ژورې لري او هېڅوک په یوه شپه او یا یوه ورځ کې خپلې موخې ته نه رسېږي، ښایي په ننني نړۍ کې موخې ته رسېدل او بریالي کېدل لږ څه سخت او ستونزمن تر سترګو شي، خو څه فکر کوئ چې بریا ته د رسېدو لپاره کومو مهارتونو ته اړتیا لرئ؟ د دې لیکنې په دوام په هغو اتو مثبتو باورونو باندې رڼا اچول کېږي، چې موخې ته د رسېدو لپاره د اړینې انګېزې او هیجان سبب کېږي.

هرومرو بریا ته د رسېدو په لاره کې له خنډونو سره مخامخ شوي یاست، چې ټوله انګېزه او هیله مو درنه اخلي. له مثبتو افکارو څخه د ډک ذهن لرل او د انګېزې رامنځته کول کولای شي موږ بریا ته ورسوي. په دې مقاله کې تاسو ته وایو چې په خپل ذهن کې کوم افکار وروزئ، څو په چټکه توګه خپلو موخو ته ورسېږئ.

**۱ - هېڅوک په یوه شپه کې بریا ته نه رسېږي**

موږ په ننني ټولنه کې د فکر له یوې داسې بڼې سره ستر شوي یو، چې باید هر څه په چټکه توګه تر لاسه کړو، په همدې خاطر ډېرى وخت مو هېرېږي چې مناسبه دنده هغه څه نه دي، چې وکولای شو په یوه شپه یا هم یوه ورځ کې یې تر لاسه کړو. ښایي له ځان سره ووایئ، دا چې د هغه څه هیله ولرو چې ټاکل شوي نه ده، ژر یې تر لاسه کړو، واقعاً ناهیلي کوونکې خبره ده، ښایي هیله او انګېزه مو درنه واخلي، خو داسې یو فرصت رامنځته کوي چې زده کړئ له هغه څه سره د زړه له کومې مینه وکړئ، چې په لټه کې یې یاست. که ناهیلي نه شئ او خپلې هڅې ته دوام ورکړئ، هر څومره چې ډېر وخت تېر شي، بالاخره به هغه څه ته ورسېږئ، چې په لټه کې یې یاست. ښایي خپلې موخې ته د رسېدو لپاره ډېر ځیزونه له لاسه ورکړئ، خو ډاډه اوسئ، کله یې چې تر لاسه کړئ، نو ټول وجود به مو د خوښۍ، خوشالۍ او رضایت احساس کوي.

**۲ – ډېر وخت د نورو لخوا نه منل کېږی**

ډېری کسان د نورو لخوا د نه منل کېدلو لپاره اندېښمن دي. ډېری کسان د فکر له همدې بڼې سره د کاروبار نړۍ ته داخلېږي، حقیقت دا دی چې ډېری خلک تر ډېره چې پر مثبتو ځیزونو باندې تمرکز وکړي، په دې اړه فکر کوي چې ښایي شرایط په سمه توګه پر مخ لاړ نه شي. هو سمه ده، کله چې د نورو لخوا له یوه ځایه بهر کېږئ او د رد ځواب اورئ، نو انرژي مو له لاسه ورکوئ، خو په وجود کې مو یو څه را ویښېږي، د یوه شرکت لخوا د رد ځواب اورېدل، په دې مانا نه ده چې اصلاً د هغه کار لپاره مناسب نه یاست. که د خپلې خوښې وړ پوهنتون کې نه یاست منل شوي، دا په دې مانا نه ده چې وړتیا مو کمه ده، یا علمي کچه مو ډېره ټیټه ده، بلکې باید په خپل ځان کې دا فکر رامنځته کړئ، چې اړینه ده یو ځل بیا یې وازمایئ. د دې پر ځای چې د نورو لخوا بهر کېدل، په خپل ژوند کې یو بندښت وګڼئ، هغه ته په سړک کې د هغې نقلیه وسیلې په سترګه وګورئ چې تاسو د بریا په لور لېږدوي.

له خپل ځانه منفي افکار لرې کړئ او اجازه مه ورکوئ، چې دننني وېرې مو له پښو وغورځوي. هرومرو باور کول یې سخت دي، که پوه شئ والټ ډېزني یې د ټیټ خلاقیت په خاطر د ورځپاڼې له دفتره وایست، خو هغه وتوانېده چې د بریا په تګلوري کې مېشت او خپلو موخو ته ورسېږي.

**۳ – تاسې تر حد زیات لایق یاستی**

هر انسان د یوه دلیل پر بنسټ پیدا شوی دی، کله وخت اړینه ده چې د ژوند له لوړو او ژورو څخه د خپل پیدایښت دلیل پیدا کړو، باید دومره ازمېښتونه او تېروتنې ولرو او بېلابېلې لارې وازمایو، څو په پای کې خپلې وړتیاوې وپېژنو، له موږ څخه هر یو کولای شو دې نړۍ ته بدلون ورکړو، له موږ څخه هر یو په خپل دننه کې یو څه لرو، چې د تنکۍ ځوانۍ له وخته په موږ کې رامنځته کېږي او هره شېبه د ازدېدلو لپاره د یوې لړزې یا جرقې په تمه دي. موږ ټول د مهارتونو خاوندان یو؛ ځینې په خپل ځانګړي شخصیت سره کولای شي نړۍ د خپل ځان لپاره پر غوره ځای بدله کړي، ځینې په خپل ځانګړي تفکر سره کولای شي فوق العاده محصولات جوړ کړي او ځینې نور په لوړې انګېزې او موخې سره کولای شي یو میلیون ډالري شرکت جوړ کړي. تر هر څه مخکې باید پر دې باندې پوه شئ، چې په ژوند کې مو موخه څه ده؛ نړۍ په دې تمه ده چې یو څه ورته وړاندې کړئ.

**۴ - فرصت تل وي، یوازې یې کشف کړئ**

هغه کسان چې د خپل یوازیتوب له بنده را بهر کېږي او خپله ټوله هڅه کوي، څو خپل استعدادونه وړاندې کړي، تر ټولو خوشاله خلک دي. ښایي له ځان سره داسې فکر وکړئ: تر هغه وخته چې زه کافي پوهه او وړتیا تر لاسه کوم، ټول دنده وړاندې کوونکي فرصتونه د نورو لخوا ډکېږي، دا یو ناسم فکر دی. زموږ نړۍ د وخت په تېرېدو سره لا ډېره وده کوي، تل نوي فرصتونه شته، په خپله باید له هغو څخه په ګټه اخیستنې په ټولنه کې نوې برخې رامنځته کړئ، نوي فرصتونه هېڅکله نه ختمېږي، یوازې یې باید کشف کړئ.

**۵ – ځینې وخت اړتیا ده چې خطر ومنئ**

پر خپل ځان باندې په کافي باور سره ګام پورته کړئ او حتی کله وخت خطر ومنئ. خطر ښایي زموږ د اندېښنې سبب شي، که څه هم موخه دا نه ده چې شرایطو ته په نه پام سره خطر ومنئ او د خپل ځان لپاره سر خوږی جوړ کړئ، خو یوازې باید له خپلې خوندې او هوسا سیمې څخه را بهر شئ او نوي ځیزونه زده کړئ. په دې کار سره په سم تګلوري باندې ګام پورته کوئ، کله مو چې ژوند د بریا پر تګلوري باندې برابرېږي، څو ځان له یو شان والي څخه وژغورئ او کله وخت خطر ومنئ، نو خپل ځان وښوروئ، د فرصتونو په لټه کې واوسئ او هغه کار تر سره کړئ چې له کوم څخه چې وېرېږئ. د بېلګې په توګه، په ستر شرکت کې د خپلې خوښې دندې اخیستونکو فرصتونو په لټه کې واوسئ او د ګومارنې لپاره مرکه وکړئ، په پای کې یې دا چې په مرکه کې نه منل کېږئ، نور هېڅ ستونزه درته نه جوړېږي.

**٦ – له بریا وروسته ځان ته ډالۍ ورکړئ او خپله خوشالي ونمانځئ**

هغه لاره چې تاسو بریا ته رسوي، هرومرو نباید ډېره سخته او ننګوونکې وي، کله وخت د ژوند لپاره یوه بله لاره پیدا کړئ، څو ثابت قدمه پاتې شئ. په خپل تګلوري کې د سترو موخو تر څنګ کوچنۍ موخې هم ولرئ. د بېلګې په توګه، کله چې د یوه مسلک د زده کولو په پړاو کې یاست، د خپل ځان لپاره یوه کوچنۍ ډالۍ واخلئ، کله مو چې د هغه مسلک د زده کولو پړاو په بریالیتوب سره پای ته ورساوه، هغه ساعت چې تل یې په لټه کې وئ او غوښت مو، د خپل ځان لپاره واخلئ. بریا ته د رسېدو لپاره خپل ځان ته د ډالۍ ورکړه، د انګېزې د رامنځته کېدو سبب ګرځي او پرمختګ ته د رسېدو لپاره انګېزې ته اړتیا لرئ.

**۷- له خپلو ملاتړ کوونکو مننه وکړئ**

له هغه چا څخه مننډوی واوسئ، چې په هر ډول شرایطو کې پر تاسو باندې باور لري، ځکه دا ستاسو د ښه چانس نښه ده. ځینې بریالي کسان خپلې شاوخوا ته هېڅوک نه لري، چې په ماتو او بریاوو کې ترې ملاتړ وکړي. که داسې کسان لری چې ستاسې ملاتړ کوي، د دې نعمت لپاره د الله (ج) ډېر زیات شکرونه پرځای کړئ. ښایي سترې بریا ته رسېدلي وئ، خو هېڅکله هغه افراد، لکه: والدین، ښوونکي، دوستان، خپل او خپلوان چې درسره وو، مه هېروئ. هغوی کله چې تاسو یوه کوچنۍ نظریه درلوده، تر کله چې سترې بریا ته ورسېدئ، ستاسو تر څنګ وو او په سختیو شرایطو کې یې پرې نه ښودی.

**۸ - خوبونه مو پر واقعیت بدل کړئ**

د بریا نیمه لاره په خیال بافۍ او مثبت فکر کولو سره وهل کېږي، خو اوس یې وخت را رسېدلی دی چې د عمل ډګر ته ور ودانګئ. ډېری انسانان په خپل ژوند کې هېڅ خوب او هیله نه لري، کوم افراد چې د بریا لپاره هېڅ هڅه نه کوي، هغه کسان دي چې په ژوند کې له تاسو څخه ډېر شاته دي، تاسو په زغم او د ماتې په منلو سره له هغو کسانو څخه ډېر مخکې یاست، چې خپل ځان ته هېڅ ټکان نه ورکوي. خپل ځان ته د دې یادونه وکړئ، که خپلو موخو ته نږدې شوي یاست، نو دا هرڅه په دې خاطر وو چې اړین جرئت مو درلود، څو هغه په خپل ذهن کې مجسم کړئ.

# ملګري ملتونه: په افغانستان کې روان کړکېچن وضعیت اندېښمن کړي یو


ملګري ملتونه وایي، په افغانستان کې د تاوتریخوالي لوړه کچه په دې هېواد کې د روان کړکېچن وضعیت ښکاروندیه ده.

ملګري ملتونه د افغانستان د سولې لپاره روانې خبرې د څو لسیزو د جګړې د پای لپاره یو فرصت بولي، خو په دې هېواد کې په اوسني وضعیت هم اندېښنه ښیي.

په سیاسي او سولې چارو کې د دې سازمان مرستیاله روزماري ډیکارلو وایي، په افغانستان کې روان تاوتریخوالی په دې هېواد کې د اوسني کړکېچن وضعیت ښکارندویي کوي.

مېرمن ډیکارلو پرون د دې سازمان په غونډه کې چې د کوېډ-۱۹ اغېز پر سولې او امنیت په نوم جوړه شوې وه، په افغانستان کې د سیاسي جوړجاړي لپاره د ملګرو ملتونو د پوره مرستې ډاډ هم ورکړ.

هغې زیاته کړې: «افغانستان هم له تاریخي پلوه په یوه مهم او اهمیت لرونکي پړاو کې دی. د ټولو خواوو تر منځ د سولې خبرې اترې یوه داسې فرصت رامنځته کړی، چې کولای شي د څو لسیزو کړکېچ او بې‌ثباته حالت د پای لامل شي. د تاوتریخوالي اوسنۍ لوړه کچه د دې هېواد د کړکېچن وضعیت ښکارندویي کوي. ملګري ملتونه په ټول توان هڅه کوي



چې د افغانانو تر منځ سیاسي جوړجاړي ته رسېدو کې مرسته وکړي.»

ملګري ملتونه د کړکېچ له زیاتېدو سربېره، په تېر ۲۰۲۰ کال کې د جګړو له کبله په افغانستان کې له خپلو کورونو څخه د ۳۸۰ زره کسانو له بې‌ځایه کېدو هم خبر ورکوي.

که له یوې خوا ملګري ملتونه په افغانستان کې روان وضعیت کړکېچن بولي، خو بل خوا بیا اروپايي ټولنې سولې ته د رسېدو لپاره د رښتینو خبرو د پیل غوښتنه کړې.

دا خبره د افغانستان لپاره د اروپايي ټولنې ځانګړي استازي رولانډ کوبیا په خپله ټویټرپاڼه لیکلي او زیاته کړې یې ده: «په دوحه کې د سولې لپاره رښتینې خبرې باید له سره پیل او د باور رامنځته کولو او په تدریجي ډول د پرمختګ پر لور روانې شي، د دې پر ځای چې د یوه بل پر وړاندې دفاعي حالت غوره او له نور ډېر امتیاز وغوښتل شي. دا حالت به یوازې جګړه او د قربانیانو شمېر یې زیات کړي.»

اروپايي ټولنه داسې مهال په قطر کې د سولې د رښتینو خبرو د پیل غوښتنه کوي، چې د قطر په پلازمېنه دوحه کې له تېرو ۹ ورځو راهیسې د افغانستان دولت او طالبانو مرکچي پلاوو هیڅ غونډه نه ده کړې.

مسیر ورځپاڼه
**مسوول مدیر:** اسدالله وحیدي
**مرستیال:** شفیق امیرزی
**اېډېټران:** جواد تیموري او امان الله حنیفي
**خبریالان:** حمیدالله حمیدي، حکمت آرین او حشمت الله نوري
**ګرافیک او ډیزاین:** ارمان
**چاپخونه:** وایګل چاپ ۰۲۰۲۵۱۲٦۲٦
۰۷۸۲۹۸۹٦۹٦
maseerdaily@gmail.com
0202502100 / 0777989696
www.maseerdaily.af
Maseer Daily
MaseerDaily

Maseer
New Vision, New Journey
Daily

غوره کیفیت او چټک خدمات په
وایگل چاپ کې تجربه کړئ!
WAYGAL PRINTING CO
if You Can Think it, we Can ink it.
+93 (0) 202 51 2626, +93 (0) 782 98 9696 | waygalprinting.co
Dehbori Crossroads in Front of Park Kabul | waygalprinting.co@gmail.com

چهارشنبه د ۱۳۹۹ د سلواغي اتمه | د ۲۰۲۱ د جنوري ۲۷مه | ۶۷۱یمه ګڼه

www.Maseerdaily.af | twitter/MaseerDaily | Facebook/MaseerDaily

| کابل | هرات | کندهار | بلخ | ننګرهار | خوست |
|---|---|---|---|---|---|
| ۹ | ۱٤ | ۱٦ | ۸ | ۱۹ | ۷ |
| -۵ | ۲ | -٤ | -۱ | ۲ | -۲ |

شرعي وختونه: سهار ۰۵:۲۹ | لمر ختل ۰۶:۵۵ | ماسپښين ۱۲:۰۷ | مازیګر ۰۳:۴۰ | ماښام ۰۵:۱۸ | ماخوستن ۰۶:۴۵

## نړۍ



د بشري حقونو د څار نړیوال سازمان:

## د روسيې حکومت د بشر حقونو معيارونه تر پښو لاندې کړي


۳

## سفیر ایران: روند صلح باید از انحصار کشورهای خاص بیرون شود



محمدنعیم، سخن‌گوی هیئت مذاکره‌کنندۀ طالبان دیروز گفت که یک هیئت این گروه که در راس آن ملا برادر، معاون سیاسی این گروه است، به‌دعوت مقام‌های ایرانی به این کشور سفر کرده‌است. این سفر هیئت طالبان در حالی صورت می گیرد که رئیس‌جمهور غنی روز یکشنبه در نشست کابینه گفت که یک فصل تازه در مناسبات کابل با واشنگتن باز شده‌است و امریکا، افغانستان را همچون شریک بنیادی‌اش می‌داند. در همین حال، سفیر ایران در کابل می گوید که طالبان بخشی از واقعیت‌هایی افغانستان اند و تهران می کوشد تا مذاکرات میان افغانان از انحصار برخی از کشورهای خاص بیرون شود. در همین حال، وزارت امور خارجه می‌گوید که این سفر در هماهنگی با کابل انجام شده‌است. بهادر امینیان، سفیر ایران در کابل گفت: «طالبان بخشی از واقعیت افغانستان هستند که باید بر ساختار کشور افغانستان، ساختار موجود این کشور برگردند. تمام تلاش ما این است که مذاکرات بین الافغانی از زندان برخی از کشورهای خاص خارج شود و به ریل واقعی خودش برگردد. به نظر من شرایطی که فعلاً در مذاکرات دوحه جریان دارد و شرایطی نیست که نفع مردم افغانستان در آن تامین شود.» همزمان با این سفر طالبان به ایران، وزیر امور خارجه افغانستان ازچندین کشور حوزه خلیج از جمله عربستان سعودی و اردن دیدار کرد. کشورهایی که روابط پر تنشی با تهران دارند. بهادر امینیان، سفیر ایران در کابل می افزاید: «ما اگر با هر کشوری رقابت و دشمنی داشته باشیم. صحنه افغانستان صحنه دیگریست. ما اگر با امریکا هر مسئله یی داریم مسایل امریکا را در افغانستان نمی آوریم. به همین طور با بقیه کشورها روابط افغانستان به همه کشورها، در جای خودش است ما کاری به آن بحث نداریم.»

## ګوترش: مړو به د نازیانو او سپین پوستو د برترۍ پر وړاندې نړیوال ائتلاف جوړوو



د ملګرو ملتونو عمومي منشي انتونیو ګوترش د نویو نازیانو او سپین پوستو د برترۍ پر وړاندې د یوه نړیوال ائتلاف د جوړېدو غوښتنه کړې.

ګوترش دغه راز د ناسمو تبلیغاتو او اطلاعاتو، له پردیو د وېرې د بیا راژوندي کولو، د یهودانو ضد او د کرکې د بیانونو پر وړاندې چې د خپراوي او ودې یو عامل یې هم په نړۍ کې د کرونا خپره شوې وبا بلل شوې، د یوه نړیوال اقدام غوښتنه کړې.

هغه ویلي، دا خواشینوونکې ده، خو د حیرانیتا خبره نه ده چې د کرونا خپرېدل د دې سبب شوي چې په دویمه نړیواله جګړه کې د دې هالوکاست یا یهودانو له ډل‌وژنې انکار وشي، تاریخ تحریف شي یا هغه را لنډ شي.

د ملګرو ملتونو عمومي منشي وایي، دا چې یهودان د کرونا له خپره شوې وبا سره تړل کېږي او هغوی په دې تورن کېږي چې پر نړۍ د تسلط یا نفوذ د هڅو د یوې برخې په توګه یې دغه ویروس جوړ کړی و، که هغه ډېر خطرناکه تبلیغات نه وي، نو له مسخرې پرته بل څه نه دي.

نوموړي زیاتوي، دا د یهودانو ضد وروستي تبلیغات هغو تورونو ته پاتې کېږي چې له دې مخکې په ۱۴مه پېړۍ کې د بوبوني طاعون د خپرېدو له امله پر دوی لګول شوي وو.


## د روغتیا نړیوال سازمان :
## روانه اونۍ به پر کرونا د اخته کسانو شمېر ۱۰۰ میلیونو ته ورسېږي

د چین نړیوالې راډیو د خبر له مخې، د روغتیا نړیوال سازمان له تازه شمېرې سره سم د جنورۍ په ۲۵مه په ټوله نړۍ کې پر کرونا وبا د اخته کسانو شمېر ۹۸ میلیونه ۷ لکه ۹۴ زره او ۹۴۲ تنه ښودلی، چې له دې امله د مړو شوو کسانو شمېر ۲ میلیونه ۱ لک ۲۴ زره او ۱۹۳ ته رسېدلی دی.

د روغتیا نړیوال سازمان عمومي مدیر تیدروس ادهانوم وایي، په دې اونۍ کې به پر کرونا وبا د اخته کسانو شمېر ۱۰۰ میلیونو ته ورسېږي. نوموړي پر دې ټینګار کړی چې د هرې شمېرې تر شا یو کس دی، مړو باید تر وسې پورې د کرونا وبا مخنیوي او د انسانانو ژوند ته کلک پام وکړو. دا په داسې حال کې ده چې په ځینو هیوادونو کې د کرونا وبا دویمې او درېیمې څپې هم په شدت سره د خورېدو په حال کې دي او تر ډېره خلک د دې وبا د مخنیوي لپاره د روغتیا نړیوال سازمان وړاندې شوي اصول په پام کې نه نیسي. یاد سازمان زیاتوي، که خلک ماسکونه وانه چوي، ټولنیز واټن مراعات نه کړي او د زوکام، ستوني درد او ټوخي پر مهال په کور کې پاتې نه شي، دا شمېرې به نورې هم لوړې شي.


## ژونــــد

## د سامسُنګ لومړنی ۵ کامرې لرونکی موبایل




سامسُنګ کمپنۍ د جنوري په ۱۴مه په یوه غونډه کې د ګلکسي اېس۲۱ لړۍ تر ټولو پیاوړی او غوره ځانګړني لرونکی ځیرک موبایل، ګلکسي اېس۲۱ الټرا معرفي کړ. دغه ځیرک موبایل کې ٦,٨ انچه ستره امولېډ ډوله مخپاڼه ورکړل شوې چې ۱۲۰ هرتز ریفرېش رېټ څخه د ملاتړ وړتیا هم لري او مخپاڼه یې د کوریلا ګلاس ویکټېس په مرسته خوندي شوې دی. د نورو ځانګړنو سربېره، د دغه ځیرک موبایل مخپاڼه له اېس-پېن څخه هم چې له دې وړاندې یوازې ګلکسي نوټ لړۍ کې کارول کېده، ملاتړ کوي. ګلکسي اېس۲۱ الټرا به ۱٦/۱۲ ګېګابایټ رم او ۵۱۲/۲۵٦/۱۲۸ ګېګابایټ د فایل ثبتوني وړتیا ولري. د ګلکسي اېس۲۱ او اېس۲۱ پلس په څېر دغه ځیرک موبایل به هم ځینو هېوادونو کې د کوالکام کمپنۍ سنپ ډراګن۸۸۸ او ځینو نورو کې د سامسُنګ اګزینوس۲۱۰۰ پروسېسر سره خرڅلاو ته وړاندې شي. دغه ځیرک موبایل ۵۰۰۰ ملي امپیره وړتیا لرونکې بېټرۍ لري چې له ۲۵ واټ چټک چارج څخه ملاتړ کوي.

## شجاعت څه شی دی؟



شجاعت او زړورتیا د ذهني قدرت، پوهې او پر ځان د باور ترکیب دی، چې ټول په یوه اخلاقي ځانګړنه کې سره جمع شوي دي. زړورتیا له تاسو سره مرسته کوي، چې په اسانۍ سره سختې پرېکړې وکړئ، پرته له دې چې وخت مو ضایع کړی وي لاس پکار شئ او په ډېرې اسانۍ له سختیو سره مخ شئ. کله چې تاسو ته نوې دندې در سپارل کېږي، نو شجاعت او زړورتیا ته اړتیا لرئ؛ کله چې غواړئ له داسې کسانو سره مخ شئ چې په یو ډول ستاسو د ځورونې لامل شوي. څومره چې زړور کېږی، بیا نو هغه ده چې په پوره غیرت پرېکړه کوئ او هغه کارونه چې فکر مو کاوه نه یې شی تر سره کولای، په تر ټولو ښه بڼه یې تر سره کوئ. شجاعت او زړورتیا داسې څه نه دي، چې تاسو دې ورسره زیږېدلي یاست، خو داسې یو څه هم نه دي، چې وکولای شئ په یوه شپه کې یې تر لاسه کړئ. د ټولو مطلوبو اخلاقي ځانګړنو په څېر د شجاعت او زړورتیا د روزلو لپاره هم باید هڅه وشي.

عزیزي بانک
Azizi Bank

د ازي پې (AZIPAY) پرمختللې بڼه

عزیزي بانک خپلې د ازي پې بڼوې ته پراختیا ورکړې چې تاسو ته پراخ خدمتونه او ګټې لکه: بایومتریک ننوتل-د ګوتې او مخ پېژندنې له لارې، څو ژبې (پښتو، دري او انګلیسي) کارول، د ډالرو کارونه، د صورت حساب او کوچنۍ سټېټمنټ لیدل، د صرافۍ خپلکاره ماشین څخه د ازي پې پرمټ د کارت پرته پیسې وېستل، د مبایل شمېرې ته پیسو استول او د د صرافۍ خپلکاره څخه یې ماشین ترلاسه کول، د مبایل شمېرې ته کریډیټ زیاتول، د بل اداینه او نورې برخې وړاندې کوي

مهرباني وکړئ نوې بڼه یې له اپسټور او پلې سټور څخه ډونلوډ (ښکته) کړئ، د لازیاتو معلوماتو لپاره 1515 شمېرې سره اړیکه ټینګه کړئ.

www.azizibank.af | 1515

